# د افغانستان په شمال کې د قوشتيپې کانال او په دې اړوند د اوزبېکستان د ولسمشر شوکت مير ضيايف غيرمسئولانه څرګندونې



**ليکونکی: جنرال محمد عتيق پاڅون**

دا کانال د آمو له سيند (اکسوس، جيحون يا آمودريا) نه چه په لمړي سرکې د افغانستان له پامير نه سرچينه اخلي را بېل شوی او لا د جوړېدو په حال کې دی. دا کانال د افغانستان د اوبو رسولو يو له سترو کانالونو څخه دی چه د ۱۵ مليونو ډالرو په لګښت د ۲۸۵ کيلو مترو په اوږدوالي، ۱۰۰ مترو سور او ۶,۵ مترو ژوروالي د بلخ ولايت د کلدار په ولسوالی کې د آمو له سيند نه بيل او د فارياب ولايت د اندخوی تر ولسوالی پورې به په درې پړاوونو کې جوړ شي ( لمړيپړاو ۱۰۸ کيلومتره د بلخ ولايت له کلدار نه د دې ولايت تر دولت آباده پورې، دوهم پړاو ۱۷۷ کيلومتره د بلخ ولايت له دولت آباد نه د فارياب ولايت تر اندخويه پورې او دريم پړاو به د کرنيزه ځمکو وېش ته ځانګړی کيږي). ټاکل شوې ده چه د دې کانال ۴۳ کيلومتره به په يوه کال کې جوړيږي. د دې لوی کانال په بهير کې څو آبګردانه بندونه، د اوبو لګولو سيستمونه او د بريښنا د توليد لپاره واړه بندونه په نظر کې نيول شوي دي چه د هغه له بشپړېدو سره به ۹ مليارده متر مکعبه اوبه ذخيره او ۶۰۰۰۰۰ هکتاره للمي ځمکه به په اوبو خړوبه شي.

که دا ستره اقتصادي پروژه (پروجکټ) په برياليتوب سره سر ته ورسيږي د کرنې پوهانو پر علمي بنسټونو داسي وړاندوينې کړي چه نه يوازې د افغانستان اړتيا به د غلو دانو له اړخه پوره کړي بلکه زمونږ هيواد به و کولی شي ګاونډيو او ان تر دې چه د نړی زياتو هيوادونو ته غلې صادرې کړي.

په دې وروستيو کې د اوزبېکستان ولسمشر ضيايف داسي بې بنسټه څرګندونې کړي چه ګنې د قوش تيپې کانال به پهمنځنی اېشيا کې د اوبو تعادل ګډ وډ کړي. که رښتيا هم د اوبو د تعادل د ګډ وډولو موضوع وي نو د شوروي اتحاد په وخت کې چه د قراقوم کانال له آمودريا نه د ترکمنستان د يو مليون هکتاره وچو ځمکو د خړوبولو په موخه جوړ شو دا تعادل به هغه وخت ګډ وډ شوی وي ځکه د قراقوم کانال حتیٰ د آمو سين له خپل مسير او د لوېدو له ځايه (خپلې دلتا نه) چه د ارال سمندرګی وه منحرف او د کسپين سمندر کې په لور ئې ور واړاوه چه په پايله کې ئې د ارال سمندرګی وچ او د خپل لوی چاپيريال د ککړېدو لامل شو.

له ټولو مهمه خبر دا چه د شوروي اتحاد په وخت کې پرته د افغانستان له هوکړې د آمو د سيند د منځنی اېشيا د هيوادونو په سواحلو باندې پاخه تحکيمات جوړ شول چه اوبه ئې د افغانستان سواحلو ته

را واړولې او کلونه کلونه کېږي چه د سیند اوبه هر کال په سلهاوو هکتاره د افغانستان مځکه له ځانه سره وړي یعني د افغانستان مځکه د اوبو په ذریعه وهل کېږي او کمېږي او د منځنۍ اېشیا ګاونډیانو ته ور اضافه کېږي.

کله چه د افغانستان او منځنۍ اېشیا د ګاونډیانو سرحد ټاکل کېده د آمو سیند منځنی خط سرحد و ټاکل شو چه دا خط به اوس په خپله د افغانستان په خاوره کې د ننه پروت وي او دا پروسه دوام لري. په دې حساب مونږ نه تنها د اوبو تعادل له منځه نه ده وړی بلکه زیاته خاوروه مو د سیند آخوا پاته ده چه بنائي بېرته راکړل بنی.

د ټول تاریخ په اوږدو کې افغانستان تر اوسه د آمو له سیند نه یو څاڅکی اوبه هم نه دي اخیستي او قوش تېپه لمړی کانال دی چه یو څه اوبه به زمونږ هېواد ته ور کړي او هغه هم سمدلاسه له عکس العمل سره مواجه شو.

زمونږ ټول ګاونډیان عادت شوي چه زمونږ اوبه مفتې واخلي او که مونږ استفاده ترې کوو یاني کوم د برېښنا یا آبګردانه بند په خپل کوم سیند باندې جوړوو دوی فوراً ممانعت کوي. نن سبا تېل او ګاز ډېر قېمتي توکي دي، هغه ورځ لرې نه ده چه اوبه به و پلورل شي ځکه اوبه ورځ په ورځ په نړۍ کې کمېږي.

د افغانستان دولتونو ته په کار ده چه لا نه ده ناوخته شوې لاس په کار شي خپلې اوبه مهار کړي، د برېښنا او آبګردانه بندونه پرې جوړ کړي که نه وي داسې یو وخت به راشي چه د هر بند د جوړولو لپاره لمړی باید له یوه ګاونډي هېواد سره و جنګېږو او تنها د جنګ د وړلو په حالت کې به و توانېږو چه په خپل سیند په خپله خاوره کې بند جوړ کړو.

**و من الله توفیق**